مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: مـحـمـد اورنـګ مـخـتـار[1]
رالېږونکی: احسان الله ارینزی

۲۰۲۴/۰۵/۰۵

# غازی مومین خان او د چک لرغوني شاهي کلا

## وردګ د تاریخ په بهیر کې سیمینار

### اتلسمه مقاله



د افغانستان پنځه زره کلن لرغوني تاریخ ته په کتو د هېواد په ډېرو ځایونو کې د تاریخي سیمو او لرغونو اثارو داسې بېلګې شته چې د افغانانو د لرغوني تاریخ او تمدن په زره پورې بېلګې دي او د افغان ولس میرانه، تاریخي شهکارونه، مدنیت، زړورتیا، ځواکمنتیا او هنر تري له ورایه ښکاري. دا تاریخي سیمي سربیره پر دې چې ډیری د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د اطلاعاتو او فرهنګ په وزارت کې ثبت شوي، د نړۍ د تاریخی اثارو په نوملړ کې هم خوندي دي چې نړیوالو ته زموږ د لرغوني تمدن او فرهنګ عملي درس ورکوي او ښيي چې افغانستان په خپله غیږه کې سلګونه بلکې زرګونه کاله وړاندې داسې اتلان او تمدن راوړونکي روزلي چې نوره نړۍ تري عاجزه وه او د دوی د لوړ تمدن او فرهنګ بیلګې دي، چې اکثره یې د هرات، بامیان، بغلان، لغمان ، میدان وردګ، بلخ ، کابل او کندهار په ولایتونو کې موقعیت لري، چې موږ دلته د وردګو د چک ولسوالی د نهه برجه تاریخي او لرغوني کلا چې په سیمه بیزه او آن نړیواله کچه د لرغوني برم او عظمت یوه ستره تاریخي کلا ده درپېژنو:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



د نهه برجه لرغوني کلا د وردګو د چک ولسوالۍ په ګوډه کې موقعيت لري، دا کلا چې نهه برجونه يې له ليرې ترسترګو کيږي، د شاهي نهه برجه په نوم يادېږي. شاهي نهه برجه ځکه ورته ويل کيږي چې عام خلک يې له جوړولو عاجز دی او دا ډول کلاګاني به شاهانو جوړولې، چې د ارګ يا سلطنتي سيمې په توګه يې ترې کار اخست، د نهه برجه تاريخي کلا په ۱۲۳۳ ه سپوږميز کال کې په ډېر عجيبه ډول جوړه شوې ده، چې په افغانستان کې سارى نه لري. په افغانستان کې ډېر وختونه په رسنيو او فرهنګي ځايونو کې د هلمند د بست يا د هرات د اختيارالدين قلعه ستاينې کيږي؛ خو که لرغون پيژندونکي يا د تاريخي ابدو وړ او متخصص کسان يا ژورنالستان او ليکوال له دې کلا څخه ليدنه وکړي، د دې کلا د کلکو ديوالونو چې تر ۵ مترو لوړ او ۳ متره پلن دی وګوري، له شک پرته به ياده کلا د نړۍ د مهمو عجايبو او پخې کلا په توګه ونوموي او دا به ومني چې د ۳ متره سورور ديوال جوړول واقعاً د افغان ولس د کلکې ارادې او پاخه ځواک څرګندويي کا.
نهه برجه کلا لکه چې له نامه څخه يې ښکاري ۹ برجونه لري، د منځ برج يې تر ټولو لوړ او سورور برج دی، چې ۲۵ متره ارتفاع لري. دغه برج يا اسمانڅکی ۵ پوړه لري، چې په پورتنيو ۴ پوړونو کې يې ۱۲ اتاقونه دي يعنی هر پوړ يې ۳ اتاقه لري، چې ۳ په۴ مترو کې جوړ شوي، له دې علاوه د برج په ديوالونو کې يونيم په دوه متره کې ګڼ نور اتاقونه شته چې په امنيتي لحاظ ډېر محفوظ دي او د حصار شاهي کار ترې اخستل کيدا. د کلا په منځ کې لوی او واړه حمامونه لري چې د يو ډول ځانګړو مرمرينو ډبرو څخه چې (چکوشي) ډبرې يې بولي جوړ شوي. د کلا دروازه پټه ده او لومړۍ دروازې ته يې له بيرون خوا څخه زينې ختلې چې ټانک، موټر نشي ورختلای، د دروازې د ننه د د هليز په بڼه يو کوچنی برج دی، چې له همدې ځايه د کلا منځ ته دويمه ستره دروازه هم لري چې د شوروي يرغل پرمهال روسان ونه توانيدل دغې کلا ته ننوځي؛ ځکه د کلا دواړه دروازې په يو داسې دهليز کې ختلې چې درنه يا ثقيله وسله پکې د استفادې وړ نه ده او دروازې د ارچې له دومره پاخه لرګي څخه رغول شي چې سپکې وسلې يې د تخريب قابليت نه لري. د پټې دروازې پر سر ۳ کټوې دي چې هره يوه يې د ۲۰۰ ليتره اوبو ظرفيت لري. که دوښمن د کلا د دروازې سوځولو هڅه وکړي نو د دې کټوو او به يې اور مړ کولای شي. دا کلا د يو خاص مهارت او پوځي تکتيک له مخې په افغانستان د انګريزي استعمار له يرغل وروسته د وخت د ستر پوځي جنرال او سپه سالارغازي مومين خان له خوا جوړه شوې ده،ځکه نو دا کلا د غازي مومين خان کلا هم بولي، غازي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مومین خان د وزیر محمد اکبرخان د هغو ۵ تنو غازیانو او سرخیلو قوماندانانو په ډله کې راځي چې د میکناټن د وژلو او افغانستان د ازادۍ ګټلو په تدبیر او پلان کې يې تر ټولو مهم رول درلود.

د نهه برجه کلا اوس هم جوړه روغه ده او د غازي مومین خان ځخه پاتې اولاده پکې ژوند کوي. د روايتونو له مخې د يادې کلا ختې به په غوايانو پخيده اوهر بيګا به د پنډې په بڼه جوړيده او په اوبو کې به ايښودل کيده سهار تر پخيدا وروسته به پرې پسخې وهل کيدې، کلا د دروازې تمبه له ۱۵متره ارچې یا بلوط لرګي څخه جوړه شوې ده چې د پکتیا ولایت څخه د فیلانو او اوښانو په وسیله راوړل شوی؛ ځکه هغه وخت موټر او اوسني وسایل نه و او په نورو حیواناتو د دا ډول درنو لرګیو انتقال ناشونی دی. یاده تمبه په سر کې يوه لويه اوسپنيزه کړۍ هم لري، د يادونې ده چې د دې کلا د برجونو د منځ ديوالونه ټول په ځانګړي هنر نقاشي شوي چې د هغه وخت د تمدن او هنر ښکارندوی دی. د دې کلا په جوړولو يو کال وخت لګيدلی دی، په ياده کلا کې د غازي مومين خان د اولادې ترڅنګ دهغه د ورور غازي يارمحمد خان اولاده هم اوسيږي، غازي يارمحمد خان د دې کلا تکميل شوې بڼه نه ده ليدلې، يارمحمد خان په ۱۲۳۳ کال کې چې د دې کلا د بشپړيدا چارې پيل شوې وې د هرات ولايت سپه سالار او د ځينو روايتونو له مخې د هرات والي و، هغه په همدې کال ( ۱۲۳۳ ) کال کې له دوښمن سره په مخامخ جګړه کې شهيد شو او بدبختانه د کلا تر بشپړيدا ورسره ژوند وفا ونکړه، غازي يارمحمد خان هم د خپل ورور غازي مومين خان په څير يوزړورمشر و.

هغه تيره چې د دې کلا د دروازې پر سر ليکل شوې ده پرې ليکل شوي چې دغه کلا د هغه وخت په ۱۷۰۰۰ طلايی سيکو جوړه شوې، دا رقم د نورو عادي خلکو له توان څخه پوره نه وو، دغازي يارمحمد خان مشر ورور غازي مومين خان چې د دې کلا اصلي مالک دی، وروسته له هغه د وخت د مشرانو او ولسونو د پام وړ وګرځيد، چې نوموړي په ساړه ژمي کې له کابل څخه تر کندهاره پورې په کم وخت کې تر وزير فتح محمدخان پورې ځان ورساوا او هلته يي را ولاړو شوو شخړو ته د پای ټکی کيښود. غازي مومين خان چې د ( افغانستان در مسير تاريخ) ليکوال ميرغلام محمد غبار، نوای معارک، تکړه مورخ ميرزا عطا محمد شکارپوري او د وردګو مشاهير کتاب ، په درسونه عبرتونه نومي کتاب کې ستر جنرال ګل زرک ځدراڼ، افغانستان د تاريخ په پلوشو کې يې الحاج محمدنسيم نعيم زي او داسې نورو ګڼو ليکوالانو هر يو پخپل وار يادونه کړې ده. د وخت د ۵ وتلو غازيانو څخه ګڼل کيده، د نوای معارک کتاب مولف منشي عطامحمد شکارپوري ليکي غازي مومين خان يو زړور ، مدبر او د ښو اخلاقو او غوره قلم خاوند او د ده استاد و، جنرال ګل زرک ځدراڼ په خپل ليکل شوي (درسونه عبرتونه) نومي کتاب په ۱۵۳ مخ کې داسې ليکي: ( د انګريزانو پر خلاف د پکتيا د جهاد په سلسلو کې د غازي ملامومين په مشرۍ انګريزانو ته درانه تلفات واوړيدل، ډير انګريزان ووژل شول او وسلې ترې نه يوړل شوې، د دې تلفاتو په هکله پخپله انګليسي مورخ په خپل درد باندې داسې اعتراف کوي: بريدمن ( هی) د ملامومين له خوا په زرمت کې په ډير ناروا توګه ووژل شو، وروسته څرګنده شوه چې ملا مومين زموږ د دوښمنانو په ډله کې يو سرسخت دښمن و.)

د ( افغانستان د تاريخ په پلوشو کې) ليکوال الحاج محمد نسيم نعيم زی د خپل اثر په ۲۴۹ مخ کې غازي ملامومين د انګريزي استعمار په وړاندې تر ټولو مخکښ غازي بللی. نوموړی ليکي: ( د ۱۲۲۰ه د قوس په مياشت کې د پکتيا په زاوه سيمه کې خلکو د فرنګيانو په خلاف د غازي ملا مومين په مشرۍ په پاڅون لاس پورې کړ ، مکناټن په بيړه ليورابوستش، اربورټن او اندرسن په مشرۍ يو لوی ځواک سيمې ته وليږا، د دوی سره يی سنګر جوړونکي او سور رنګ غورځوونکي هم وليږل، د فرنګيانو دغه ځواک هر څومره زور چې استعمال کړ بريالي نشو، بيرته ګوډ مات کابل ته ستانه شول، دی ليکي د پکتيا د جهاد په سلسله کې د ملا مومين په مشرۍ زيات شميرفرنګيان ووژل شول او وسلې ورڅخه په غنيمت يوړل شوې.

افغان مورخانو که غازي مومين يو سرسخت مبارز بللی؛ خو مشهور هندي تاريخ ليکونکي منشي عطامحمد شکارپوري ملامومين يو غوره مبتګر او د لوړې حوصلې څښتن او مدبر انسان بللی. نوموړی زياتوي کله چې په ۱۳۳۶ه ق کال کې د شاه شجاع له تګ وروسته سردار شيردل خان د هند د شکارپور حکمران شو، غازی ملا مومين غلجی يې هلته نايب الحکومه وټاکه. زه ( د نوای معارک کتاب مولف عطا محمد شکارپوري) يې منشي وټاکل شوم. په ۱۳۳۷ه ق کال رحمدل خان شکارپور ته راغی. ملامومين خان يی د نايب الحکومت له دندې ګوښه او ما ته يی په خپله دنده کې د پاتې کيدا حکم وکړ؛ خو د ملا مومين خان ميړانې ، غوره اخلاقو او پخې ملګرۍ له امله ما ته خپل ضمير دا اجازه رانکړه چې زه د لته دنده اجرا کړم.

غازي مومين خان د غازي امين الله خان لوګري کلک ملګری و. غازي مومين خان د ملاحکيم زوی دی، نوموړی د پکتيا د بنوزيو په دره نومې سيمه کې نړۍ ته سترګې غړولې. په قوم اورياخيل غلجايي و، هغه له نوي ډهلي تر پيښور، له پيښور تر وزيرستان، پکتيا، پکتيکا، بيا د لوګر تر سنګ نوشته، کابل ،غزني، فراه، هرات او کندهار پورې غزاګانې او حکومتونه کړي دي، د نوای معارک نومي کتاب ليکوال وايی کله چې غازي مومين خان له شکارپور څخه کندهار ته لاړ، ما ته يی د کندهار د تګ وويل؛ خو مور او پلار مې د کندهار د تللو اجازه رانکړه ، څه موده وروسته زه هم د ده د اخلاص له امله هلته ورغلم. هلته ملا مومين خان او د هغه وراره طره باز خان زما ډير قدر وکړ او زه يې د وخت حکمران شيردل خان ته بوتلم ، د دې کتاب په يوه برخه کې د غازي مومين خان له خولې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

ليکل شوي: موږ له دوښمنانو سره د هيواد او ناموس د ساتلو پخاطر ډېرې جګړې وکړې؛ خو تر ټولو سخته جګړه د محمد خان کوهي سره وه چي په فراه کي پېښه شوه، تر دې چي د محمد خان کوهي ۴۵۰۰ عسکر مو ټول مړه او ژوبل کړل، محمد خان کوهي د هرات د حکمران کامران له خوا د کندهار د نيولو په موخه له هرات څخه لښکر کشي وکړه ،کله چي شيردل خان خبر شو؛ نو د غازي مومين خان، عبدالله خان اڅکزي ، رمضان هوتکي او حاجي خان کاکړ په مشرۍ يي د هغوی مخي ته خپل پوځونه وليږل دا پوځونه په فراه کي له يو بل سره مخامخ شول چي له سختو جګړو وروسته د محمد خان کوهی په مشرۍ د کامران پوځونه ټول په شا شول او يا ووژل شول څنګه چي غازي مومين خان د وخت د ستر باغي محمد خان کوهي په ماتولو کي هم مهم رول درلود. د شيردل خان له خوا سخت ونازول شو. دغه جګړه د ۱۳۳۸ه قمري په جمادي الاخر کي پيل شوه او د همدې کال تر اخره يي دوام وکړ، غازي مومين خان د ذالحجي په ۲۵ نيټه بيرته کندهار ته ستون شو.

غازی مومين خان غلجی د وردګو خلکو او سيمي سره د ځانګړې مينې له امله، د خپل ځان او خپل اولاد له پاره د وردګو د چک د ګوډه سيمه غوره کړه. ګوډه چي د چک ولسوالی يوه مهمه او مشهوره حوزه ده، د دايميرداد ولسوالی له تنګي سيدان نيولي تر سياب پورې غزيدلې ،د ګوډه سيمه د غازي مومين خان او غازي يارمحمد خان ترمنځ د سيند په اوږدو ويشل شوې، يعني د سيند ختيځ پلو د غازي مومين خان او د سيند لويديځ د غازي يار محمد خان ځمکې وې . د يادوني ده چي غازي يارمحمد خان هم پخپله ځمکه کي يوه بله مهمه کلا جوړه کړې ده چي اوس هم جوړه ده، دغه کلا دغازي امان الله خان د واکمنۍ په وخت کی د حکومت له خواظبط او د وزيرستان څخه راغليو ناقلينو ته يی ورکړه چي اوس د مسعودو قوم خلک په کي اوسي. غازي مومين خان چي د ميکناټن د وژلو او افغانستان د ازادۍ ګټلو په تدبير او پلان کي يي مهم رول درلود، د پيښور د صوبېي مرستيال والي او والي هم تير شوی. نوموړی د پوځي فتوحاتو تر څنګ د خپلي واکمنۍ پر مهال د دولت بودجې ته تر بل هر والي زيات عوايد راوړل، چي د عوايدو زياته برخه يی د خلکو څخه د ماليي قانوني راټولول و.

ماخذونه:
۱ – حليم، حيات الله، د وردګو مشاهير، دويم ټوک
۲ - ځدراڼ، ګل زرک، درسونه عبرتونه، لومړی ټوک، ۱۵۳ مخ

۳- شکارپوري، عطامحمد، نوای معارک، ۲۰۷ – ۲۰۸مخونه

۴- غبار، غلام محمد، افغانستان در مسير تاريخ، ۱۳۳ مخ
۵ - مختار، اورنګ، د وردګو کلتوري يون، ۱۴۳ – ۱۴۴ او ۱۶۳ مخونه
۶ – نعيم زی، محمد نسيم، افغانستان د تاريخ په پلوشو کې، ۲۴۹ مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ